AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست

۲۰۲۶/۰۴/۱۳

# پالشي

## (لنډه کیسه)



د ګلبهار سنټر مخامخ د پیاده رو پر څنډه کتار ماشومان ناست ول. د بوټانو د رنګ بوتلونه او بُرسونه يې مخې ته ایښي وو. چې څنګه ور نږدې شوم؛ ټولو راوکتلې. هر يو په دې تمه و چې بوټان مې رنګ کړي. خو د دوی په منځ کې يو ماشوم داسې اسمان ته کتل لکه د کوم را غورځېدلي ستوري تش ځای ته چې ګوري. همده ته ورغلم او مخې ته يې ودریدم. ماشوم هم ماته کتلې او هم په بل چورت کې غرق و. بوټان مې وویستل، زړې پلاستیکي چپلکې يې را وړاندې کړې. يو بوټ يې واخیست، زما د بوټ څرمنه ژیړه وه؛ خو ده پرې ځو ځلې تور بُرس کش راکش کړ او بیا چې يې پام شو؛ نو په سترګو کې يې بخښنه وغوښته.

د ښیښه يي بوتل د سرپوښ په پرانیستلو يې زورونه وهل؛ خو ګوتو يې سستي کوله. پر زنګانه يې کېښود، نیم پرې ورچوک شو او په څه خوارۍ يې پرانیست. بوتل يې همداسې خالي پرېښود او بُرس وهلو ته يې بیا کش ورکړ. سر يې ځوړند نیولی و. اخر مې حوصله ختمه شوه؛ غوښتل مې ورته ووایم چې څه دې شروع کړي؟ ناوخته دی، کار لرم. لا مې دا الفاظ د ژبې سر ته نه و راوستي چې سر يې پورته کړ. سترګو کې راټولو شویو اوښکو يې په رڼا ورځ وډار کړم. ما ویل که دجله او فرات يې را ایسار کړي او اوس به ټول ښار غرق کړي.

شیبه وروسته يو بل هلک راغی، زړه او په رنګ ککړه بکسه ورسره وه. دی هم د بوټانو رنګوونکی و. سلام يې وکړ او بیا يې همدې ماشوم ته ویل: زنده ګی سر ات باشه!

په دې خبره هلک بیا داسې ژړه غونی شو، لکه ټوله زنده ګي چې يې بایللې وي او بل ورته هسې بې ځایه ډاډ ورکوي. يوه شیبه يې ور وکتل او د سر په خوځولو يې ترې مننه وکړه.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولـئ

بوټان له رنګولو خلاص شوي وو. يو تور مستطيل ته ورته سپنج يې راواخيست او د ځلا لپاره يې پر بوټانو کش راکش کړ او بيا يې مخې ته راته کېښود.
هيڅ نپوهېدم څنګه ترې پوښتنه وکړم، څنګه يې د فکرونو له ژور منجلابه راوکاږم. اخر مې زړه غټ کړ:
خيريت دی، څه شوي؟
د ښي لاس لستوڼی يې پر سترګو راتېر کړ: خورکۍ مې.... نور غلی شو. سر يې پرزنګنونو کېښود. پر سړک د کوم لوړ پوړي چارواکي د موټرو کوچنی کاروان تيرېده، له هارنډونو سره يې هلک سر راپورته کړ.
بيا مې ترې وپوښتل:
په خورکۍ دې څه شوي؟
لکه د زړه خبره چې يې خولې ته نه راځي. د ښي لاس په ګوتو يې څو ځلې خپل تشي ته ضربې ورکړې. يوه شيبه غلی و او بيا يې په بند بند غږ وويل:
ګُرده، ګُرده...
د ګام اخيستلو وس مې بايللی و. همله ورته ولاړ پاتې شوم. بيا يې راوکتل:
له ما کشره وه. له څو ورځو راهيسې يې د ګُردو درد ډېر شوی و. هغه شپه يې ډېر وژړل. له دې سره دې هم پرېنګ په ژړا شو. ښه يې زړه يې تش کړ او بيا يې کيسه پيل کړه:
پلار مې ډاکټر ته بيولې وه. هغه ورته ويلي و چې تيرې يې غټې شوي، بې له عملياتو يې چاره نشته. د عملياتو پيسې نه وې، موږ ورته ايله د درد د ارامولو ګولۍ اخيستې. د ګوليو زور نه رسيده. بيچاره ګۍ دردونو ليونۍ کړې وه.
بېګاه بيا سخته شوه، مور مې ورسره ګډ ژړل. ما هم...
يو ځل بيا داسې په ژړا شو لکه د بيمارۍ خورکۍ د کټ پر بازو چې ناست وي.
بيا يې د خبرو تار ونيوه:
تر نيمو شپو مې مور خښته تودوله او په ګېډه يې ور ايښوده. تازه مې سترګې پټې شوې وې چې مور مې داسې چيغه وکړه، ما ويل که چت کيناست. ژر پورته شوم. مور مې په خورکۍ همداسې چوکه وه. په لټو کې تاوه کړې خښته يې ورته په ګېډه ايښې وه. د خور مې دواړه سترګې پرانيستې وې. د څراغ رڼا ته يې ژير مخ ښکارېده....
هغه... هغه... نوره د ګُردو له درده خلاصه شوه. هغه... له دې سره يې داسې دواړه لاسونه په تشو کېښودل لکه د ګُردي د درد شديده حمله چې پرې راغلې وي.

نعمان دوست


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ